# تاجونه

کله چې د غاښ ډکول نور یو غوره انتخاب نه وي، نو تاج د غاښ د هغې برخې ځای نیسي چې د ژامې د پاسه څرګندېږي.

کله چې یو غاښ خورا ډېر زیانمن شي او د غاښ ډېر مواد له لاسه ووځي، نو دا ستونزمنه ده چې له عادي ډکولو سره ښېرته داسې ترمیم شي چې د قناعت وړ وي. نو بیا کېدای شي مناسبه وي چې تاج جوړ شي. تاج د طبیعي غاښونو په څېر ښکاري.

## پروسه

د دې لپاره چې غاښ د تاج لپاره چمتو شي، د غاښونو ډاکټر باید غاښ ښکته ژور کړي. غاښ داسې چمتو کېږي چې تر یو حده د سلنډر/ مخروط په څېر وي او بیا د غاښ یو چاپ یا سکن اخیستل کېږي. دا بیا د غاښونو تخنیکي شخص ته استول کېږي تر څو تاج جوړ کړي. کله چې غاښ چمتو شو او چاپ/ سکن شو، نو غاښ باید په د یوه لنډمهاله تاج په وسیله خوندي کړل شي. لنډمهاله تاجونه معمولاً د غاښونو په رنګ پلاستیکي موادو څخه جوړېږي چې په چمتو شوي غاښ کې له لنډمهاله سیمنټ سره سمېږي. مخکې له دې له دې چې تاج سېمنټ شي (له چمتو شوي غاښ سره ونښلول شي)، د غاښونو ډاکټر ګوري چې دا له غاښ سره سمون خوري، له نږدې غاښونو سره مناسبه اړیکه لري، پر کوم ځای خوله نه لګوي او ظاهر او رنګ یې د قناعت وړ دی. ځینې وخت سمونونو ته اړتیا پېښېږي او تاج باید ښېرته د غاښونو تخنیکي شخص ته واستول شي او ځینې وخت کېدای شي اړتیا وي چې یو نوی چاپ واخیستل شي. کله چې تاج د قناعت وړ وي، نو دا د سېمنټ د ځانګړي ډول څخه په استفادې سره په غاښ سمېدای شي. که چېرته د مخه د غاښ ريښنه ډکه شوې وي، نو د غاښونو ډاکتر د ريښې د تراکم او معالجې کیفیت ګوري. که چېرته د غاښ د ريښې درملنه نوره غوره نه وي، نو د امکان په صورت کې دې بیا ځلي دا کار ترسره شي (مخکې له دې چې تاج پرې کېښودل ښي.

## مواد

د تاجونو او موادو مختلف ډولونه موجود دي او له پیاوړتیا او ښکلا له پلوه بیلابېلې ځانګړنې لري. تاجونه له مختلفو موادو څخه جوړېږي، داسې انتخابونه هم پکې شته چې ټول له اوسپنې جوړ دي، له اوسپنیزې سرامیکې (اوسپنیز پوښ چې د غاښ په رنګ چیني سره پوښ شوی دی) یا بشپړې سرامیکې (چیني) څخه جوړ دي. دا ټول بېلا بېل توکي لري، د بېلګې په توګه یو بشپړ اوسپنیز تاج د چیني تاجونو په پرتله قوي دی، په داسې حال کې چې چیني تاجونه د ښکلا له پلوه ښه دي. د غاښونو ډاکتر له ناروغ سره په مشوره مواد د موقعیت او اړتیاوو پر بنسټ ټاکي.

## د تاج درملنې لپاره بدیلونه

د تاج درملنې لپاره د کمې بیې بدیل دا دی چې غاښ په کامپوزېټ (پلاستیک) سره ډک کړای شي. دا په نارمل توګه د کمزوري انتخاب په توګه په پام کې نیول کېږي او کېدای شي چې د تاج درملنې په پرتله یې ښکلا کمه وي. په ځینو مواردو کې ممکنه نه ده چې غاښ په مناسبه توګه ډک شي او په دې صورت کې به تاج یوائنی انتخاب وي چې د غاښ د له لاسه ورکولو مخنیوی وشي.

## تاجونه له سنجاقونو سره

ځینې وخت غاښ دومره زیانمن کېږي چې د تاج لپاره کافي د چسپولو ځای نه وي. د غاښونو ډاکتر تر هغې وروسته کولای شي چې غاښ په یوه پېن اوږد او جوړ کړي. ددې لپاره چې پېن ځای پر ځای شي باید ريښنه يې ډکه شي، که چېرته د مخه دا کار نه وي شوی. د ريښې د کانال کتله بیزه برخه لرې کېږي تر څو د سېنجاق لپاره ځای جوړ شي. سېنجاق په کلکه د غاښ په ريښنه کې له ځانګړي سیمنټ سره جوړېږي. سېنجاقونه او جوړښتونه ځینې وخت له اوسپنیز الیاژ څخه جوړ شوي وي، مګر له کامپوزېټ (پلاستیک) سرامیک یا الیاف څخه هم ګټه اخیستل کېدای شي.  هغه غاښ چې ريښنه یې ډکه شوې وي او پایه او تاج لري، هېڅکله به د یوه سالم غاښ په اندازه پیاوړی نه وي. کله چې څه پرې ژوول کېږي، نو پر پېن کېدای شي چې ډېر فشار راشي او پېن یا غاښ کېدای شي چې مات شي یا په ريښنه کې درز راشي. دا ډېری وخت د دې لامل کېږي چې غاښ باید و اېستل شي.

## کنډولي او پاکول

حتی که چیرته غاښ تاج هم ولري، کېدای شي چې ستاسو غاښونه د غاښ د تاج د څنډې او د سطحې تر منځ له پلک یا باکتریا څخه سوري (کنډولي) شي. ډېری وخت دغه ډول سوري له ډکولو سره ترمیمېږي. که چیرته سوری لوی وي او/ یا د ترمیم وړ نه وي نو کېدای شي اړتیا وي چې یو نوی تاج جوړ شي. له همدې امله دا مهمه ده چې غاښونه مو پاک وي او ښه حفظ الصحه وساتئ. د دې لپاره چې غاښونه مو د اوږدې مودې لپاره پاتې شي او کار وکړي نو اړتیا ده چې د مخه یې ښه پاک وساتي او فلوراید د غاښونو کریم وکاروئ. د غاښونو د ډاکتر/ د حفظ الصحي د مسوول له لوري منظمي معاینې ته اړتیا ده. هغوی به تاسو ته د پاکولو په اړه لارښوونه وکړي او مشوره به درکړي. دا به له تاسو سره مخنیوی وکړي چې د تاج په څنډو کې له کنډولیو څخه مخنیوی وکړئ او د تاج په شا و خوا کې د ژامو له التهابي کېدو څخه مخنیوی وکړئ.

## پېچلتیاوې

تاج کېدای شي چې د ژوولو پر مهال خراب شي او کېدای شي چې د تاج مواد هم مات شي، د بېلګې په توګه کېدای شي چې چیني مات شي. ځیني وخت کېدای شي اړتیا وي چې د غاښ له چمتو کېدو څخه وروسته سملاسي د هغې رېښه ډکه شي ځکه چې کېدای شي چې د غاښ نسج د چمتووالي پر وړاندې غبرګون وښيي یا کېدای شي چې د مخه التهابي شي. په دې صورت کې مخکې له دې چې تاج چمتو شي د غاښ رېښه ډکېږي. کېدای شي چې وروسته د رېښې درملنې ته هم اړتیا پېښه شي. بیا کېدای شي ممکنه وي چې د غاښ د تاج له لارې د غاښ درملنه وشي.

## تاج څومره وخت دوام کوي؟

د دې تمه کېږي چې یو تاج څو کاله دوام وکړي. په هر صورت ځیني شیان شته چې کولای شي د تاج عمر کوتاه کړي. دا کېدای شي چې د سولېدلو، پرسلېن د ماتېدو، د تاج لاندې څنډو د ماتېدو یا د خولې د کنډولیو د نورو زیانونو/ ناروغیو له امله وي. په هغو مواردو کې چې کنډولي یا د پرسېلین ماتېدني نه ترمیمېږي او د تاج پر عملکرد اغېز کوي، نو کېدای شی چې یو نوی تاج مناسب وي.